# په پښتني ټولنه کښې د کرکې او کړنې یوه تنقیدي او تحقیقي جائزه

# A critical and Research based Study of Superstitions and Omen in pashtun Society

شفاء کاکړه*

**Abstract:**

Superstitions normally found in the societies of tribal nature besides lack of knowledge. Due to these customs and rites, socities disintegrate and crumble. Author of this paper has traced such ritual and critically analysed in the light of convincing argument.

په ټوله نړۍ کښې که مونږ وګورو نو د دنیا یو هم داسې قام نۀ شته چې په هغو کښې ځان ته جلا دود او دستور نۀ وي، خو دغه دودونه ځنې د ډېرو قامونو سره مشترك یعنې سره ګډ وي او د ځنو بیا خپل ځان ته جلا دود او دستور وي، خو له حالاتو سره سم دغه دودونه هم تګ کوي ځنې داسې دودونه وي چې د ټولنې په ګټه وي هغه له وخت سره سم له وګړو سره ځنګ په ځنګ روان وي او ځنې بیا د اولس له ذهن او فکر سره سم تګ نۀ شي کولی او په نیمه لاره کښې په پښو شل پاته شي او سوکه سوکه د خلقو له ذهنو لرې شي بلکې خلق ورته په سپك نظر ګوري، په پښتني ټولنه کښې هم ډېر داسې دودونه شته چې له نورو قامونو سره یو ډول وي او ځنې بیا داسې دودونه دي چې یوازې او یوازې تر پښتنو پورې اړه لري. دلته چې د کوم دود خبره کیږي نو دا هغه دود دی چې د نړۍ په ډېرو قامونو کښې وجود لري چې په پښتني ټولنه کښې ورته کرکې یا کړنې وایي. دغه کرکې او کړنې هم په دوه قسمه دي یو ډول هغه دي چې د ټولنې له وګړو سره سمې روانې دي او ځنې بیا داسې کرکې او کړنې دي چې د زمانې له تېرېدو سره د اولس له ذهنو وتلې دي. کومې کرکې چې له اولس یا وګړو سره ځنګ په ځنګ روانې دي هغه خلقو په نېك مرغۍ نیولې دي او ځنې چې پاته شوې دي هغه اولس په بد مرغۍ احساس کړې دي او شا ته یې پرې ایښې دي، دغسې ډېرې کرکې شته چې له اولس سره روانې وي خو اولس یې کوي هم او په نېك مرغۍ یې نیولې وي یعنې چې کوي یې نو یې دا ګمان وي چې په دې کرکو سره مونږ ته نېك مرغي په برخه کیږي او ځنې بیا اولس نۀ خوښوي او دا عقیده لري چې که دا عمل وشي نو مونږ ته تاوان پېښوي. خو په مجموعي توګه ډېرې کرکې د ټولنې په تاوان تمامیږي:

---

* M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta

"کرکې او کړنې چې د خرافي عقائدو او تصوراتو له جملې څخه شمېرل کېږي زمونږ د عنعنوي ژوند يوه برخه تشکيلوي او د بشر په تاريخ کښې ډېره سابقه لري، کرکې او کړنې يا د عوامو د تلفي دغه طرز د خرافاتو تر سرليك لاندې مطالعه کېږي مګر په دغو کرکو کښې ځنې داسې کرکې او انګېرنې هم شته چې د ټولنيزو او اخلاقي ګټو په منظر را منځ ته شوې او په عملي ژوند کښې ګټورې خواوې لري.

که مونږ ټولې انګيرنې او کرنې په غور وګورو له هغو څخه د اولسونو د اقتصادي وضعې ټولنيز مناسباتو او کلتوري ارزښتونو په باب معلومات تر لاسه کولی شو"(1).

د پورتنۍ حوالې له رويه چې په بحث پيل کوو نو ښۀ به دا وي چې د کرکو لنډه تعريف وکړو او بيا د هغو په تاوان او ګټه خبرې وکړو.

کرکې: د کرکې دپاره يو بل توری کرکجن هم شته، د کرکجن توری د انسان دپاره هم کاريږي، خو په پښتو کښې د کرکې لفظي معنا دا ده چې يو شی نۀ خوښول او ورته په سپك نظر کتل.

"په انګرېزي ژبه کښې ورته tition Supers وايي او مطلب يې دا دی چې په مافوق الفطرت خبرو باندې عقيده لرل. د يو شي په باره کښې خيالي او سايکي اثراتو ته هم کرکې ويل کيږي"(2) "

يو بل توری هم د کرکې دپاره شته چې په انګرېزي کښې Omen ورته وايي، مطلب ځنې هغه واقعه يا پېښه ده چې په راتلونکي وخت کښې د ښۀ او بد شي اشاره وګڼل شي"(3)

په اردو ژبه کښې د کرکو دپاره د بد شګوني توری کارول کيږي، "دغسې نحوست، بد خيالي، توهم پرستي او بد بختي هم ورته وايي. دا ټوله د کرکې توري معنا ورکوي چې په فارسي کښې هم ورته خوب شګون او بد شګون وايي، کرکې صرف د پښتنو دود نۀ دی دا د نړۍ په هر ځای کښې تراوسه پورې وجود لري"(4).

د انسائيکلوپېډيا اکسفورډ قاموس د Superstition تر سرليك لاندې ليکي:

ژباړه: توهمات يا توهم پرستي بقايه جات تراوسه پورې په برطانيه او شمالي امريکه کښې په روايتي دودونو کښې وجود لري په هغه کښې څۀ خاص شيان د دوی په نېکمرغي نيولي او له ځنو څخه کرکه کوي لکه سپين آس ليدل، نېکمرې ګڼي له ځنو عملياتو څخه بيا کرکه کوي لکه تر زينه لاندې تېرېدل، هېنداره ماتول او د غنې وژل"(5).

کرکو که څۀ هم زمونږ ټولنې ته تر ګټې زيات تاوان رسولی دی خو بيا هم مونږ په هغه باندې ټينګ ولاړ يو او کلکه عقيده ورباندې لرو ولې چې د کرکو مطلب دی نفرت کول خو بيا هم زمونږ ټولنه په ډېرو کرکو باندې يقين لري، او هغه کرکې چې ټولنې ته تاوان رسوي په

هغو باندې يقين نۀ کول ډېر ضروري دي ځکه چې دا کرکې خو په اسلامي حواله هم هيڅ حقيقت نۀ لري، اوس به راشو د ګټې او تاوان کرکې به د نمونې په توګه وګورو:

## ټولنيزې تاواني کرکې:

په پښتني ټولنه کښې چې کله چا ته څۀ تاوان پېښ شي نو وايي چې دا پلانى کال، هفته يا ورځ ډېره ناسيې وه، پر ما يې ګرسره پال نۀ وکړې، بيا ډېر خلق د دغه کس له ذهنه سره سم دا يقين جوړ کړي چې داسې کال، هفته يا ورځ بې بخته وي او خلق کرکه ورځخه کوي. د دغسې کرکو په حقله ډاکټر فيض الله پانيزى صاحب په خپله ناچاپه پې ايچ ډي مقاله کښې ليکي:

" توهمات يوه ټولنه د جمود سره مخامخ کوي، ټولنه ودې ته نۀ پرېږدي. په کومه ټولنه کښې چې توهمات عام وي هغه د جديد سائنس ترقۍ نه ډېر لرې په يو داسې دنيا کښې اوسي چې نۀ په مذهبي لحاظ ورته درسته وئيلى شو او نۀ په عقلي لحاظ، د نړۍ اکثر قامونه د توهماتو له وجې د مختلف ډول خود ساخته ويرې په لومه کښې راګېر وي، تر ټولو زيات توهم په هندوانو کښې دى خو له دې سره سره دا ويل به هم بې ځايه نۀ وي چې پښتانۀ چې من حيث القوم ټول مسلمانان دي د توهماتو ښکار دي. که په غور سره وکتلى شي نو په اسلام کښې د توهم پرستۍ هيڅ ګنجائش نۀ شته، زۀ نۀ پوهيږم چې يو خوا خو پښتانۀ کلك مسلمانان دي نو بل خوا په دغه رنګه غير اسلامي او غير سائنسي خبرو باندې ولې يقين لري. زما په خيال د دې بنيادي وجه د تعليم او شعور کمى دى که په ټولنه کښې شعور عام شي نو د توهماتو ببخ کني بيا څۀ ګرانه خبره نۀ ده"(6).

په پورتنيو خبرو کښې په پښتنو کښې د کرکو او کړنو لامل د تعليم او پوهې کمى ښودل شوى دى خو زما خيال کرکې او کړنې زمونږ د کلچر او دود و دستور يوه زوروره برخه جوړه شوې ده او دا هم يو ښکاره حقيقت دى چې د پښتانۀ کلچر تر وروستي اسلامي دورې يعني د حضور پاك صلى الله تر اسلامي تعليماتو زوړ دى، نو که په پښتنو کښې د اسلام باوجود هم کرکې وي نو دا له هغه وخته را روانې دي کله چې اسلام لانۀ ؤ راغلى خو بيا هم په پښتنو باندې د اسلامي تعليماتو اثر ډېر زيات ښکاره دى او داسې ډېرې کرکې شته چې پخوا وې او اوس ډېر پښتانۀ ورباندې عقيده نۀ لري. د مثال په توګه پخوا دا دود ؤ چې که به د يوې ښځې اولاد پيدا شو او څوك به پوښتنې ته ورغلى نو اکثره مشرې ښځې به نۀ ورسره کښېنستې وئيل به يې مونږ له دې راتګه کرکه کوو داسې نۀ وي چې دې ښځې يا ماشوم ته څۀ تاوان پېښ شي. که په دې دوران کښې په ماشوم يا ښځه څۀ وشي نو دوى له

هغه راغلې ښځې څخه انګېري وايي چې دې په نظر کړله يا يې تعويذ په غاړه ؤ له هغه تاوان را ورسېد. نو د دغه وهم ليري کولو دپاره چې هغې راغلې ښځې چې تر څو د ماشوم په خوله کښې لاړې ور نۀ کړي تر هغو يې له مور سره پوښتنه نۀ کوي. دغه وهم اوس ېخي له منځه تللى دى اوس خو چې ماشوم پيدا شي نو د کلي ښځې او نارينه يې ټول مبارکۍ ته ورځي او ښځې د هغې ناروغې ښځې پوښتنه هم کوي.

خو په پښتنو کښې اوس هم ډېر کرکې شته چې له عمرو عمرو را هيسې را رواني دي لکه د ماشوم زانګو څوك تشه نۀ ځنګوي نۀ لنګه ښځه يوازې پرېږدي وايي که د ځلوېښتي په شپو کښې ښځه يکړه شي نو بيا بلا ورته راځي. دغه بلا څۀ ته وايي، نو که مونږ وګورو بلا خو مصيبت او تکليف ته وايي او دا بلا ډېر صورتونه لري خو په پښتني ټولنه کښې د بلا تصور څۀ بل ډول دى، يو خيالي مجسم صورت چې کله کله په سترګو ليدل کيږي او کله پټ پټ ګرځي او د دوى د ذهن سره سم دا بلا انسان ته په بېلا بېلو شکلونو کښې تاوان رسوي. که مونږ وګورو په اسلامي حواله د دې بلا هيڅ تصور هم نۀ شته هسې مو له ښځې سره يوه خيالي بلا تصور کړې وي او دغسې کرکې هيڅ ګټه نۀ لري بلکې وخت ناوخته انسان نفسياتي مريض کړي او بيا يې په علاج نفس وخيزي په بېلا بېلو طريقو د ځان علاج کوي.

دغسې د مازيګر په وخت کښې مالګه او باکس چا ته نۀ ورکول هم يو ډول دود دى چې پښتانۀ ورڅخه کرکه کوي او وايي چې په دې سره د کور رزق او روزي کميږي. که په اخلاقي يا اسلامي توګه مونږ وګورو هم نو چا ته مالګه يا بل د ضرورت شى ورکول هيڅ تاوان نۀ کوي، بلکې کله کله د چا باکس يا مالګې ته ډېر زيات ضرورت پېښ شي که په دغه وخت کښې مونږ يو له بل سره مرسته نۀ وکړو نو په هغه کور کښې د باکس له نېستۍ کېدى شي د يخ شپه په تکليف تېره شي يا د باکس د نېستۍ له کبله په کور کښې اخلى پخلى نۀ وکړي يا د مالګې له نېستۍ د کور خوراك بې خونده شي او دا زمونږ په ټولنه کښې په وار وار له هر چا سره شوي دي چې کله کله يې دا د ضرورت شى په کور کښې نۀ وي خو د همسايه له کوره د معمولي شي راوړل د کرکو يا کړنو له کبله محروم پاتې شي. دغسې د ماښام په وخت کښې په کور کښې جارو نۀ وهل وايي چې په دې سره د انسان رزق کميږي او انسان خپل رزق په خپله جارو کوي ورسره دا عقيده هم لري چې کله مسافر له کوره روان شي نو پښتانۀ کور نۀ جارو کوي او دا عقيده لري چې دا جارو وهل مسافر ته تاوان رسوي لکه چې په ټپه کښې د دې ذکر راغلى دى:

"ګــــوره کوټــــــه نـــــن جـــــارو نـــــۀ کـــــړې
زمـــــونږ لالــــی پـــه ســـفر تللـــی مــــړ بـــه شـــینه"(7)

دغـه ډول د تـش منګـي څخـه هـم کرکـه کـوي وايـي کـه چـا منګـی خـالي پرېښـو لـه اوبـو څخـه او يـو څـوك پـه مـخ درغلـو نـو بيـا کرکـه کـوي وايـي داسـې نـۀ چـې يـوه پېښـه وشـي لکـه پـه دغـه ټـپـه کښې چې يې ذکر راغلی دی:

"منګــــــی مــــــي تـــــش پــــــه مخــــــه در ووړ
ســـــفر دې ټـــــال کــــــړه تــــاواني نـــــۀ شـــــې مينـــــه
ګـــــــړی مـــــــي غمجـــــــن پـــــــه مخـــــــه راوړ
زمــــا ګومـــــان دی چـــــې غمجـــــن بـــــه شـــــم مينـــــه
پـــــــه ســـــــفر تلـــــــې پـــــــه مخـــــــه راغلـــــــې
زمــــا لــــــه خـــــالي منګــــي دي وکـــــړل فريادونــــه"(8)

دا هغــه کرکــې دي چــې پښــتانۀ ورتــه ډېــر ټينــګ يقــين لــري چــې پــه دې ســره انســان تــه حتماً تـاوان رسـيږي خـو پـه اخلاقـي طـور هـم لـه چـا سـره مرسـته کـول د ښـېګړې پـيلامـه ګرځـي او پـه ښـېګړه سـره د دوو کورونـو يـا دوو کسـانو تـر مينـځ مينـه، وسـيله او شـفقت پيـدا کيـږي او اسـلام هـم د دغـو وسـيلې او شـفقت درس ورکـوي بلکـې اسـلام لـه همسـايه سـره پـه ښـېګړه او نېکي کولو ډېر زور اچوي. دغسې په ځنو سيمو کښې دا کرکه هم شته چې:
"کــه چــرې ســړی يــا ښــځه ســهار وختــي د کارغــه ږغ واوري نــو دغــه ښــځه يــا ســړی وايــي چــې کارغــۀ يـا د ښـو زېـری کـوي کـه دغـه د ښـو د زېـري تصـور مـونږ وکـړو نـو خـو پـه ګټـه تمـاميږي او کـه د بـدو زېـری ځنـې واخلـو او پـه دغـه ورځ څـۀ تـاوان پـېښ شـي نـو پـه دې کښـې د کارغۀ د زېري خبره مخې ته راوړي چې دا خو کارغۀ سهار د بدو زېری کړی ؤ"(9).
دغسې د کارغۀ د ږغ په باره کښې ځنې پښتانۀ داسې بدلې هم وايي:

"کـــــه د ښـــــو زېـــــری کـــــوې :: يـــــو وار ليـــــا کړنــــــګ وهــــــه کــــــارغې
کـــــه د بــــــدو زېـــــر کــــــړې :: خولــــــۀ دې درونيســــــه کــــــارغې
کارغـــــــۀ کړنـــــــګ کړنـــــــګ لـــــــرې :: د مســــــافر زېــــــری کــــــوې"(10)

ټـولنيزې ګټـورې کرکـې: پورتـه د هغـو کرکـو ذکـر وشـو چـې پښـتانۀ ورتـه پـه ښـۀ نظـر نـۀ ګـوري او بـد ورځنـې کـوي خـو پـه پښـتني ټولنـه کښـې ډېـرې کرکـې شـته چـې د ښـۀ شـګون

زړې او پېلامه ګرځي دغه ډول ډېرې کرکې پښتنو د خپل ادب برخه ګرځولې دي او په ټپو کښې يې يادوي:

"پـــر ســـر مـــي تـــوره کارغـــهٔ ګرځـــي
د جانـــان شـــپې ورځـــې پـــوره دي را بـــه شـــينه(11)

دغسې پښتانهٔ دا تصورلري چې د ځنو کسانو په نظر کولو يا په ځير کتلو سره انسان ته تاوان رسيږي که څهٔ هم دغه کرکې په تاوان تماميږي خو وروسته چې د دې نظر مات دپاره پښتنو کومه طريقه اختيار کړې ده په هغه سره ورته علاج هم کيږي او سکون هم ورته رسيږي، او په اسلامي حواله هم د نظر مات او د هغهٔ د علاج تصور شته او اسلام هغه مکمله نظريه ده چې ټول عمر د انسان د ښېګړې په باره کښې سوچ کوي. په حديثو کښې د نظر مات دپاره ډېر څهٔ راغلي دي، له دې اندازه کيږي چې نظر په خپله يو حقيقت دی او انکار نهٔ ورڅخه کيږي. د نظر دپاره پښتانهٔ عموماً داسې کوي چې کله څوك ښايسته ماشوم يا ښايسته ښځه يا سړی ويني او په ځير ځير ورته وګوري او د هغه چا د ښايست په باره کښې يې د تعجب کلمات له خولې ووزي نو د هغه ښايسته کس يا تبه شي يا بل تاوان ور ورسيږي لکه په دې ټپه کښې چې يې ذکر راغلی دی:

پېغلـــي لـــوګي تـــر ســـپېلني کـــړل
چـــي وای پـــه ســـپينه ورځ اشـــنا غـــزا لـــه ځينـــه

"د کندهار په سيمه کښې د سپېلنو د لوګو په وخت غزلي يا قافيه رنګوي بيتونه ويل کيږي"(12).

داسې ډېرې کرکې شته چې پښتانهٔ ورته په ښهٔ نظر ګوري او وايي چې په دغه علامه باندې خير پېښيږي او هم دغه کرکه وي چې بيا ځنې پښتانهٔ ورته د نفرت عقيده لري او وايي چې په دې سره يوه بده پېښيږي، د مثال په ډول کله چې د چا سترګه رپيږي نو ځنې پښتانهٔ خوشحاله کيږي چې وايي دا د مېلمانهٔ د راتلو علامه ده او د مېلمه راتګ پښتانهٔ د خير سوب مني او څوك بيا وايي چې خواشيني پېښيږي، د دغې نېکمرغې د علامې يا بد مرغۍ د علامې ذکر په ټپه کښې داسې راغلی دی:

نـــن مـــي د يـــار ســـره وعـــده ده
ســـترګې رپيـــږي ښـــکلی يـــار بـــه ووينمـــه

سـتـرګـې مـې بـه ده رپـي
خـداى خـو دې خيـر کـړي ځـۀ را پـېښ نـۀ شـي مينـه

دغسې پښتانۀ د مازيګر وخت هم له بېلابېلو فکرونو سره تړي او وايي چې په دغه وخت کښې هم ښېرا قبليږي او هم دعا، او داسې د مازيګر په وخت کښې ځوك د خونې په چوکاټ کښې نۀ کښېني، وايي چې له داسې ناستې سره يو شپه کيږي دغه وخت فرشتې د مازيګر وخت عبادت کوي، د دغه وخت هم دعا قبليږي او هم ښېرا قبليږي.

مـازيګرى دى ښـېرې مـه کـړه
تـۀ بـه د نـاز ښـېرې کـوې رښـتيا بـه شـينه"(13)

❁❁❁

# حوالې


(1) نـــژدي، مصـــطفٰی، پښتـــتني فولکلـــور، د علومـــو اکېـــډمۍ افغانســـتان کابـــل، 1375ه.، مخ58.

(2) اریانا، قاموس، انګلیسي پښتو، مخ481.

(3) اکسفورډ ډکشنري انګلش او اردو، مخ1753.

(4) ایضاً

(6) ایضاً

(5) ســـوبمن، علـــي محمـــد، فولکلـــوري ګېـــډۍ، پښتـــتو ټولنـــه کابـــل، افغانســـتان، 1355هـ.، مخ6.

(6) پـــانيزی، فـــيض الله، پښتـــتو فوکلـــوري ادب تـــه يـــوه کتنـــه (د پـــي ايـــچ ډي مقالـــه ناچاپـــه) پښتتو څانګه بلوچستان یونیورسټي کوټه، 2014ء، مخ179

(7) سوبمن، علي محمد، فولکلوري ګېډۍ، مخ6.

(8) ایضاً

(9) نژدي، مصطفٰی، پښتني فولکلور، مخ58.

(10) منـــدوخېل، عبـــدالخالق، پالنـــه مجلـــه، صـــحاف نشـــراتي مؤسســـه، کوټـــه، دســـمبر، جنوري، 2002ء، 2003ء،

(11) هوډ، مجله، خپرونکې کړنې په پښتتو لنډۍ کښې، مخ26.

(12) پښتني سندري، لومړی ټوك، مخ23.

(13) هوډ مجله، 1384هه.، مخ27.